قلم او قیام

د لغمان دوسي شاعر عبدالرحمن المیسنګاري لومړی

شعري ټولګه

د لال پاچا آزمون
په زیار
۱۳۷۷ لمریز

قلم او قیام

د لغمان د ولسي شاعر عبد الرحمن الینګاري

شعري ټولګه

د لالِ پاچا ازمون په زیار

۱۳۷۷ل

کتابخانه:

نوم	:	قلم او قیام
ویناوال	:	عبد الرحمن الینګاری
د چاپ کال	:	۱۳۷۷ل/ ۱۹۹۸ز
د چاپ شمېر	:	۵۰۰ ټوکه
خپروندی	:	دانش کتابپلورځی، ډکي نعلبندي، پېښور
لیکګر	:	صدیق الله بدر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بالی

د پښتو پياوړي او نوښتګر شاعر ارواښاد ننګيال ته چې
د خپراوي په جامه کې يې د دې ټولګې د خپرولو هيله
کړې ده.

ازمون

له درانه اسد الله ساپي څخه يوه دنيا مننه چې
د څو نورو ادبي اثارو تر څنګ يې د دغې
ټولګې په چاپ کې هم خپله پښتني مينه جوته
کړه.

ازمون

د قلم او د قیام شاعر

لکه د خوب څوند چې مې یاد نشي ، چې یوه ورځ هغه وخت چې نوی زلمی وم زمونږ له کلي څو کلي اخوا چیرې واده و . د هغه کلي لاره زمونږ پر کلي تیریده او په دې لاره په زرګو نوخلک زاړه اوځوانان ډلې ډلې واده ته روان وو واده ته یې دلغمان ترټولو مشهور سندر غاړې رابللی و . زمونږ د کلي نزدې ټول ځوانان او زلمیان واده ته روان وو خو موږ ته د ټولو اجازه نه وه . موږ یې دهرچا د دونو ته نه پریښودو .

زه او زما د تره زوی چې ګل الرحمٰن نومیده او دواړه سره ملګري اوهمزولي وو سړي ستړګي دیره کې پرکټونو ناست وو او یوازې د خلکو اوځوانانو د ټولو راتلو نندارې موکولې ، په زړه کې مو بولوی غم ځاله کړې وه اوخپلو بې وسیو ته مو ژړلې . په همدې وخت کې الینګار چې له کوره راووت څو د تره زامن یې له ځان سره ملګري کړل او د واده په لور روان شول . هغوی چې زمونږ له خوا نه تیر یدل ، ګل الرحمٰن په ژړا شو او زما ستونی هم راوپرسیده ، الینګار یې شاته راوکتل اوموږ ته یې پام شو . په زړه یې خدای ج درحم اوبه وځښلې اوموږ یې هم له ځان سره ملګري کړو . کله چې د واده ځای ته نزدې شو وموکتل چې

لومړی

په زرګونو خلکو ډکو ټکورله محفل نه راتاو دي ، په سلګونو کښونه اینبودل شوي او تغږونه غوڅ ول شوي . د قام مشران په کښونو ، خوانان پر تغږونو ماشومان د ونو پر مټاخونو او غوڅې د بامونو پرسرونو ناست دي . د خلکو د ګډې ګوڅې په منځ کې سازیان په ساز لګیا دي او یوه سندرغاړي اړصونیه په غاړه کې اچولې او سندره یې وایي . کله چې موږ محفل ته نزدې شو نو ساز بند شو ، یا سازیا نو او سندرغاړو په ساز کې د سلامي نغمه وغږوله . کله چې د سلامي نغمه پای ته ورسیده سازیان او سندرغاړې ټولو قیلوخلایونو راپاڅیدل ، لاسونه یې په خپلو سینو کینبودل او الینګاري ته د احترام او مخصوص درناوي په ډول پر ملا کاږه شول او بیا په لمانځه چې ولاړ وي هسې یې دهغه درناوی وکړ .

په همدې شیبو کې چې سندغاړي لاس په نامه ولاړوو ، په زرګونو تنه تندارچیان هم راپاڅیدل او د الینګاري عزت یې وکړ . بیا الینګاري دهغوی خواته نزدې شو او دهغوی د درناوي مراتب یې ومنل . د لغمان په هنرمندانو کې دوه داسې وو چې هغوی د درناوي مخصوصه نغمه چې سلامي وهته وایي یوازې یې محفل ته د پادشاه یا سلطان په راتلو او یا خو محفل ته د شاه « نوم » په راتلو غږ وي خو په محفلونو کې له دې پرته دا نغمه یوازې الینګاري ته غږول کیده او دا څکه چې الینګاري د دوی شاعر و او د لغمان د اولسي شاعرۍ ته ټولو لوی ، منلی او ګوره شاعر .

*

دویم

دالینګاري

زوکړه او ژوند

استاد عبدالرحمن الینګاري د مولوي سید نور زوی، د نور احمد خان لمسی او د عبدالمحمد خان کړوسی دی. په ۱۲۹۹ لمریز کال د لغمان ولایت د الینګار د دره د بصرام دکلي په یوې حُمکوالی او روحاني کورنۍ کې راز نړۍ ته ډی. لومړنۍ زده کړې یې په لغمان کې له دیني عالمانو او له خپل مشر وروړ لوی مولوي صاحب عبدالحی څخه کړې دي. په ۱۳۲۴ لمریز کال یې کابل کې د ښوونکي مسلکي کورس ولوست او په همدې کال کې د لغمان ولایت د ترګړي په ښوونځي کې د ښوونکي په توګه دنده ومنله شو او وروکالدي یې د نومورې ښوونځي کې دنده سرته ورسوله. بیا لس کاله د کونړ ولایت کې ښوونکی و، له لسو کالونو وروسته بیرته لغمان ته تبدیل شو او لس کاله یې د لغمان په ښوونځیو کې د ښوونکي او سرښوونکي په توګه دنده سرته ورسوله، څو چې په ۱۳۵۱ لمریز کال جبراً تقاعد ته سوق شو. کله چې په ۱۳۵۲ لمریز کال د سردار محمد داود کودتا وشوه په افغانستان کې د هغه ژړیم پر ضد د افغانستان د اسلامي نهضت د سلوالي مبارزې پیل شوې، مولوي صاحب حبیب الرحمن د الینګاري وړاړه چې د اسلامي نهضت سر لاري و، په ۱۳۵۴ کال کې یې د لغمان ولایت په سلوالو څواکونو برید وکړ او د لغمان د امنیه قوماندانۍ په ګډون یې یو

شمیر حکومتي ودانه ونیولې . مولوی حبیب الرحمن د حمدي پښې په سبا
د پولیسو له خوا ونیول شو او کابل ته یوړل شو ،چې بیا وروسته په ۱۳۵۶
لمریز کال کې د دوو نورو ملګرو سره اعدام کړای شو .

د شهید مولوي حبیب الرحمن له نیولو کیدو سره سم د هغه پلار مولوی عبدالحی
ترونه لې حاجي عبدالحمان او عبدالرحمن الینګاري ، ورورلي فضل الرحمن او دتره
زوی یې ګل الرحمن هم ونیول شول ، الینګاري له خپلو ورونو سره دري میاشتې په
لغمان کې بندي و او فضل الرحمن او ګل الرحمن په لس لس کاله قید محکوم شول
چې بیا دنور له کوټا څخه وروسته د څرخي پله زندان کې په شهادت ورسیدل.

عبدالرحمن الینګاري د ۱۳۵۸ کال د وري د میاشتې په اته لسمه نیټه د
د ژیم له خوا ونیول شو چې له څو ګنټه وروسته یې هغه هم په شهادت ورساوه
له الینګاري نه څلور زامن د احسان الله ، فیضان الله ، ریحان الله او عرفان الله
په نوم ونوسره او څلور لونې پاتې دي . د هغه دوه زامن احسان الله الینګاري
او ریحان الله الینګاري د خپل پلار په پله روان دي او شاعران دي .

د الینګاري شاعرۍ

لغمان خوهسې هم د شاعرانو کور دی او د اسې کلی او باندې نه شته چې
په هغه کې دې شاعر نه وي . خو د دې شاعرانو ، بیا په تیره د اولسي شاعرانو
په ډله کې الینګاري بیا ځانته بیل ځای او مقام لري .

الینګاري ، فرهنګي او سنو ونکی و ، سیاسي او مبارز او د روحاني او

څلورم

قومي ننوځ خاوند و . همدغه ټولو خبرو لاس سره یوه کړي او د هغه د شاعرۍ په اړخونو یې ژوره اغیزه وکړه. هغه ټول ژوند د پښتو ژبې ښوونکې پاتې شوی و او د پښتو ادبیاتو ژوره مطالعه یې درلوده ، نو ځکه د هغه شعر او نثر شعرونو څرنګوالي یا ید د لغمان د اولسي شاعرۍ پګړۍ جوړه کړې وای چې جوړه کړي یې ده .

الینګاري د پښتو شعر په دوی فوګمونو کې خپله طبع ازمایلې او شاعرۍ یې پکې کړې ده ، خو هغه خپل دیوان شعرونه سندرغاړو ته لیکلی او نه یې د مطبوعاتو کې چاپ ته رسیدلي دي .

الینګاري له چاربیتو ، داستان ، مخمس او د شعرونو له نورو فورمونو پرته په غزلیزه شاعرۍ کې هم دپام وړ هڅاګانې کړي . د هغه یو شمیر غزلې د هغه وخت له دیرو سنو او منلو شعرۍ اثارو څخه دی ، وګورئ :

خدای دې خیر کړي نن دې ولې خیالي ګربانه لانده دي
ودې ګرځم د زړه سره جاویلي د ښکاره دي
ستا د ستر ګو مد و جزر مې د زړه کشتي کړه دوبه
د دریاب دغاړې ګلیم عاقبت مې غرقیده دي

او یا خو :

نجلي ستر ګې مې دمینې د سودا نښه ده
زیبنلی رنګ مې د خوبانو د جفا نښه ده
یو خوا ته هجر بل خوا وصل نیمرا هي کړمه نه
دواړه د ترکو یې نن هغه سبا دا نښه ده

خو صفه چې د الينګارې په شعرونو کې ډير جوت دي د صفه ملي او ټولنيز ارمان دعا او د ټولنيزو نادودو پرضد د صفه د ژبې او قلم قيام دعا او همدغې خبرې د افغانستان په ټولو څېړنيزو سيمو کې له الينګارې نه الينګارې جوړ کړې او د صفه شعرونه د لوستونکو او وړو پر ژبو را شنه شول :

نهمو ښ ځينې غټان — سنه لوی ميلونران
بانکونو شرکتو کې لري حق داولسيت

خواښوبې د ملت

په مرګ دې رانيولې
په درد دې رامنې کړې
جامې دې تړې ليستلي
اوبه دې خړې کړې ښکار دې کړې دماصيانو

ماصوم جالوانانو

داځنګه وړوکي وه
داڅه عزيز ولسي وه
داڅه پښتو نولي وه
په چل او په فريب دې تالا کړې دې کوروند

افسوس وړوکې پښتونه

چالاکه حیله باز یې
په هر قالب کې ساز یې
په دې کارکې استاذ یې
د کوم مکتب شاګرد یې دا تعلیم درکړی چاته
زما په کې سودا ده

*

دالینګاري

د شعرونو دا غـــونډ

په خوا شینۍ سره چې له الینګاري سره تړلیکلي شاعري نه ده راپاتې کلیچې د هغه پرکوړ اوکوړلمه د وخت پولیسو غوښل جوړکړی و ، د هغه ټول کتابونه او د شعرونو کتابچې یې له هغه سره یوځای له ځانه سره یوړې اوله هغه سره ووژل شول اوبنخ شول .

خو موسیقي بیا په تیره د اولسي شاعري تر ټولو غوره ارشیف دی. اوَد پښتو ژبې ځوان او نوسښتګر شاعر، پر پښتو او ـ پښتو نولی مین زهنګیالي سنا غلی لعل پاچا اړمون د همدې ارشیف له لارې د الینګاري دیو شمیر شعرونو دا نسخه

را برابره کړه او د الینګاري شعرونه یې د محمد نور د شعرونو په څیر له مینې او هیرې نه وژغورل چې زه وړتیا د دې د یوه ورکوتي فن هنګي په توګه هم او د شهید استاد الینګاري د کور نه د ښې په توګه هم کور ودانی وایم.

اوس همدومره

اسحاق ننګیال

لغمان (۳۷۷/۱/۳۱)

اتم

داتوټکه او ننګیال

دارواښاد البښاړي له شاعرګه سره ان له کوچنیوالي بلد وم، ډډه شعرونو به مې د لغمان د اولسي سندرغاړو: د پاینده محمد، ګلکي، ملاګي، د ژوندیو او مړو د نورو ولسي شاعرانو د شعرونو د پیدا کولو په تړاو کې مې ډډه لرله شاعرانه شعرونو په راټولولو ان له ۱۳۷۰ لمریز کال را پدیخوا متې را بدې وخې. خپله هیله مې په هماغه وخت کې له ارواښاد ننګیال صاحب سره شریکه کړې وه. نو له هماغو کلونو را پدیخوا مې ایله دا شعرونه د لغمان د اولسي سندرغاړو د پاینده محمد، ګلکي، ملاګي، له خولې وکښل بیا مې دا شعري غونډه د کتنې لپاره د لغمان وتلي اوپیژندل شوي شاعر عاشق الله فریاد ته ورکې، هغه د خپل لور له مخې د دې شعرونو په ګټنه ځان ستومانه کې. بیا د ارواښاد البښاړي زوی فیضان الله فیصل یې راسره د خپرولو - ډمده وکړه خو حالات داسې راغلل چې هغه یې د دغه غونډې خپراوي ترجمې نه کې. د ورځو ستې ځل لپاره مې د البښاړي د شاعرګه دا ښکګرې غونډه د پښتو ژبې پیاوړي او نوښتګر شاعر ارواښاد ننګیال ته د لیک لپاره لغمان ته ولږ، هغه پرې هر اړخیزه بسپنه وکښله. د روان کال د غویې د میاشتې په ۸، نیټه مې له هغه سره د پښتو ټولنې د بي بي سي په دفتر کې لنډه وکتل او له هغه مې په تونده او ډګیلو پوښتنو د لیک ژبه د لیک غوښتنه وکړه. هغه راته له خندا مشین

شو بیا یې راته وویل : پیرجانه ما سریزه درلیږلې، ته چې څنګه د ننګرهار د اطلاعاتو اوکلتور ریاست ته ورسیدې نو په لاس به درشي . بیا یې - جیب ته لاس کړ او د الینګار یې انځور یې راته راکړه ترې رخصت شوم ، سبا ماسپښین مې بیا د هغه ځوانمرګ د مرګ واوریدل ، هغه هم په ډیر فقر کې مړ شوی ، دوه ورځې وروسته چې له پیښور څخه بیرته راستون شوم نو د ننګرهار د اطلاعاتو اوکلتور ریاست ته ورسیدم او سره سم د آر وانباد ننګیال له مرګ وروسته لیکونه په یو پاکټ کې راورسیدل . هغې شیبې ډیر ودرډولم چې پر پاکټ په خپلو ګوتو کښلي وو : د ننګرهار په ورځپاڼه کې د ازمون صاحب ګورسیزي . ننګیال .

پاکټ مې په مړاوو ګوتو پرانست ، لومړی ګپه یو واړه لیک ستړګې - ولګیدې چې کښلي یې وو : هـــوالله

ګران ازمون صاحب !

زما سلامونه او نیکې هیلې ومنه !

دادی د الینګار ی صاحب د مجموعې سریزه مې درته درولیږله هیله ده چې ډیر ورمیزي . دهغه عکس به زه هیواد مل صاحب ته ورکړم له هغه به یې واخلې . نور ستا صحت او سلامتیا غواړم ، پر دوستانو مې سلامونه وایه .

ومن الله توفیق

ستا ننګیال

دار وانباد ننګیال په فرهنګي ډګر کې د اوږدو ستې لیک وچې دار وانباد

لســـم

الینګارې پر ټولګه یې کښلی و . د هغه ارمان داو چې د اروا ښاد الینګارې
ټولګه یو ځل دویمې مخ ډاګ ته لیږل شته چې زه یې د دغې ټولګې راټولولو او نوره
کښنو ته ډیر ستایلی او هڅولی یم . زما په غیاب کې یې په کلي کې ټولو
کلیوالو ته ډیر ستایې کړې وې او دې نیمګړې کار ته یې دقدر په سترګه
کتلې وو . نو د دیرې خوا شیښه خبره داده چې د تنګیال ارمان د اروا ښاد
الینګارې د ټولګې په لیدلو پوره نه شوه .

زه د دغې ټولګې پر شعرې ارزښت نه غږیږم ، ځکه د هغه کار نیمګړی پاتې
څرنګه چې د اروا ښاد الینګارې د پر شمیر شعرونه ځای په ځای نه شوي . نو موږ هڅه
وکړه چې د اراپاتې خو شعرونه یې د یوځای کولو نه شي راټول کړو ځکه د دغې ټولګې دښپړولو
لپاره د اروا ښاد الینګارې د شعر میدان راوبولم .

په پای کې له دوا نه فرهنګیالي ، ځوان شاعر صدیق الله بدر څخه یوه
دنیا منه کچې د دغې ټولګې د لیک په چاروکې یې ځان سستوما نه کړ .

په شاعرانه ولولو

لعل پاچا ازمون

د ۱۳۷۷ کال د غویې ۲۹مه

کابل - عمومي بن پول

بري درملتون

بیوولسم

مقام

ترجمان مې د دردمن زړګي قلم دی
دکتاب په مشغولا مې غلط غم دی

شعرنه دی خاطرې دښو دلبرو
خوشبويي مې په کلام کې د صنم دی

ما خپل زړه په جهان بين جام کې کتلو
ما ته سپينه خوله مثال د جام وجم دی

اشنايي د ناز ښو نازک خيال کړم
ښکلی مخ الينګارې ته محترم دی

غزلی

مقام

د دنیا تاجونه جار شه ستاله شانه
لوند په اوښو د مظلوم څیرې کړیوانه

چې له درده به یې مخ مینځلی نه وي
خوښې یې نه دی که نه بنایسته له سبا نه

چې د قام په درد و نه ژړیږي سترګې
مناسب نه دي چې وبالل شي جانانه

هیڅ قیمت نه لري ما الینګاریې تر
هغه سرچې وي خالي د قوم سودا نه

یو ځل بیا قسمت را پیښ کړم د خوبا نو په دیرو کې
قدم په قدم چې رنا یې شوه نجونو کیښودم ورېلو کې

کاتبان د حسن ناست وو د دعوت رقعې یې لیکلې
چا ته یې وعظ کاوه د ملوځوک پراته وو سرو لمبو کې

نوې نوې اشنایې وه نوې نوې صفا یې وه
نوې نوې ارزوګانې نوې خیال و په مغزو کې

طالعمن نه یم نوخه یم چې خدای پیښ کړم په ګلرنګو
نرې شوندې موسیدلې عجیب کیف و په لیدو کې

د بلبلو ژبې غواړي معشوقې الیـــګار یه
د قلم پرې به کله آب و تاب وي په نغمـــو کې

خدای چې زما سترګې ستا د حسن خریدارې کړې
هلته چې په مینه ستا د سترګو خدمتګارې کړې

تا چې په خوږو سترګو د مینې اشارې وکړې
ما دې هر قدم ته جوړې سترګو باندې لارې کړې

تا چې د مغرور حسن اعلان په هره خوا وکړ
ما د ارزګانو قافلې ورته لیوالې کړې

ستا پښتنو سترګو پښتنې وعدې راکړې وې
اوس دې ولې شپې ورځې پرما باندې دشوارې کړې

پاکې ارادې البېنګارې په احترام سره
تیغ د سعادت ته ستا په مینه کې تیارې کړې

نمجنې ستړګې پې د مینې د سودا نښه ده
زېښلی رنګ پې د خو بانو د جفا نښه ده

داشنا مینه بیلوي سړی له کور او کلي
دفتر د عشق کې د مجنون دشت وسارا نښه ده

یو خوا ته هجر بل خوا وصل نیم رهي کړه زه
رواج د ترکو کې نن هغه ســـبا دا نښه ده

وړې وړې سلګۍ وهه الینـــګار یه زړه
ما فال کښلی ستا په برخه د ژړا نښه ده

دا جلوه د خندو خال ده داشنا په مخ
که افتاب دی راختلی د سبا په مخ

په سپین مخ د جانان تورې زلفې پریوتې
که د شپې پرده خوره شوه د رنا په مخ

په قسم سره دې مخ ته غټ کتې نه شم
که پرده ده غورمیدلې د حیا په مخ

څه غوټې غوټې خولې د یار په مخ راغلې
که شبنم دی وریدلی د لالا[1] په مخ

سر سر تور شیرې ګریوان الینګار راغې
که د لبر را ته وګورې د وفا په مخ

---

(۱) لالا - لاله

خدای دې خیر کړي نن دې ولې خیالي ګرځانه لانده دې
و دې ګرځم د زړه سره چا ویلي درته څه دي

محترم مزاج دې ولې رنجیده او آزرده دے
طبیعت دې ټوپاني دی د عاشقو قتلیده دي

ستا د سترګو مد وجذر مې د زړه کشتۍ کړه
د دریاب دغاړې ګل یې عاقبت یې غرکیده[1] دي

سرمایه ډیر ژوندانه مې نورځه نشته بې له تا نه
هر ثبوت الینګارې ته ستا د دوه سترګو کاته دي

---

(۱) غرکیده - غرقیده

دانسان کمال په علم او په ادب دی
نه په مال نه په دولت نه په نسب دی

خاموشي د سړي ښکلی عیبونه پټ کا
د هوښیار رو خلکو تینګ دغږ په جلب دی

پر بازي قطعه بازي ساز و سرود کې
په چلم جنګ وجدل لاخه منصب دی

د شاعر کلام که هر خومره شیرین دی
د بې باکو په نظر لهو لعب دی

سنګین خوی سنګین اخلاق چې چاکې نه وي
انسان نه دی د هرچا په ځان غضب دی

له هغو خلکو جاړ به الینګار یه
چې لوستي درس د پوهې په مکتب دی

په کوم قوم کې چې پیدا فکر د کار شي
غم یې نه وي وطن ټول ګل و ګلزار شي

سعادت او بقا د دایه وي په کار کې
هر اولس چې شي بیکاره خوار وزار شي

څوک په خپلو زمکو جوړ کړي معلومنه
د چا زمکه چې خاره یا ګې شي خار شي

په بیره ګل هرګز نه پسرلی کیږي
سم وغږ چې شي خوشبویه نو بهار شي

د هر چا عمل د خپلې لاړې مـــل وي
څوک په خپل عمل بزرګ څوک ګنهکار شي

دا مثل دعا چې کړې هغه به ریبې
«اغزي مه کړه په پښوکې به دې خار شي»

مردان هغه دي چې بار د نور وچک کړي
نه په خپله په اوږو د خلکو بار شي

چې کمال د رنګ و بوی په ګل کې نه وی
ځای يې کله د دلبرو په رخسار شي

عاقبت به يې څلور فصله بهار وي
چې زامن يې د رښتيا و خدمتګار شي

چې د وخت اهمیت ونه شي پيژندلی
پسرلي ورځې تير هزار هزار شي

د اولاد په ښو او بد و مسؤل نه وي
د لمد و لښتونه هرشکل اختيار شي

تل راست خلکو ته راست واوسه په ژوند کې
بې خبره شي رفتار چې سمه لار شي

رحماني جذبه چې نه وي په کلام کې
تاثير نه لري بې خونده يې اشعار شي

ستا قدرت ته د کلام عبدالرحمانه
د فکرونو غاړه ما ته دانګار شي

ستا د قوم په احترام مشاعرې ته
را روان الينګاری له الينګار شي

څوک چې مینه کې د مینې په رنګ رنګ شي
پټ د درست جهان باچا ظاهر ملنګ شي
قلندر شي کوې پټګه يې وي ترلې
د عیارو نظاهر ځنې په څنګ شي
هر څه غواړي د دلبرو په رخسار کې
افتخار ورته د مینې نام و ننګ شي۔
هسې لویه داړي په نصیب شي۔
چې تاریخ د سرو او سپینو ترنګ وپرنګ شي
د دوهمې په غاړه ناست وي په وقار کې
بې پروا له شاجهانه او اورنګ شي
لوی جهان د مینې غواړي په جهان کې
کور وکلي پیښور وربانډه تنګ شي
په یوه قدم تر عرش پورې رسي
چې د نفس اعماره سره په جنګ شي
خوشبو يې يې د کلام شي دومره ګرانه
چې يې پاس په سینه ځای لکه لونګ شي
په ساده کلام خپل دومره عالمګیر وي
چې جاري يې خاص وعام باندې قلنګ شي

سوزان شعر به یې ولې سوزان نه وي
چې د عشق په اور سټي لکه پتنګ شي

د سپنه خوی له برکته او همته
بې پروا له هر بد خوا د تخت و جنګ شي

هر کلام یې بې د یار له یاده نه وي
په فضا کې داډب یو خوا آهنګ شي

چې بې سر د فقیر ته په بالښت کښېنوود
بیا بې خوب په کیمخواب نه په پالنګ شي

لوی پیشو او رهنما وګرځي عشق کې
بې ډډه له لارې هره لاره ګرانګ شي

داسې وایه مقام هله الیګار یه
چې حاصل کې زړه و نه پاک له خیر و زنګ شي

چې د عشق په کیمیا کې څوک سره زر شي
کوږ پټکی یې وي تر لی قلـــــنـــدر شي

یو قدم یې دی په زمکه بل اسمان کې
سلطنت یې هم په بحر وهم په بـــر شي

په فضا کې یې روزنـــه د بـــقا وي
چې اسمان کې یې مقام لکه د لـمر شي

خرابه او ویرانه یې وي گنـــــجـونه
د یر قصرونه قربان له ببر ســـــر شي

له دلبرونه یې هـرځه صدقـــه وي
سبنه خو دا ده چې لاخپله هم دلبر شي

بگتی

په دنیاکې چې د مینې د دنیا نه
آرام نه موهي پرې تنګ به پیښور شي

بې پروا وي له جملو هنرونو
چې په برخه یې تقوا دګنج هنر شي

اورنګ زیب او شاه جهان یې سیالان وي
په شرف دفقیرۍ چې مفتخر شي

نمونه د عارفانو له عرفانه
د بابا عبد الرحمٰن د شعر دفتر شي

په ربښتیا د دانایانو په نظرکې
هر کلام یې د اخلاص د یو ګوهر شي

تر قیامته یې دیوان الینګار یه
په دریاب د شاعرۍ کې لوی سنګر شي

د نارنج ګل

پسرلی راغی نوو نوو ارزو ګانو سره -
د بنکلا زیری ورکوي نارنج ګلانو سره -
د هر موسم طبیعت بیل او تقاضا بیله ده
پسرلی ، اوړی ، منی ، ژمی کې معنی بیله ده
ناز و ادا شوله بدله له خوبانو سره
پسرلی راغی نوو نوو ارزوګانو سره
څه ښه هوا د پسرلي موسم دکښت وکار دی
ملا د همت تړه د هقانه وخت دکار وزیار دی
په بیکارۍ او تنبلۍ کې ژوند ون خوار وزار دی
ای د شلم قرن انسانه بیکاري اوس عار دی
برکت ملګری د حرکت وي د زور ګاره سره
د رنګ او بوی قافلې راشي د بهاره سره
داسې تود والی چې ژوندۍ ګڼي رګونه د تن
احساس مې وتخنوه پوه مې که د مینې په فن
زمونږ په سیمه باندې راشه ګلرخانو سره
پسرلی راغی نوو نوو ارزوګانو سره

لږ تحول زمونږ په حال او په ژوندون راوله
په اراده کې یو مثبت غوندې بدلون راوله
زمونږ په ګډو و و چارو کې سمون راوله
یو معنوي پسرلی بل راکې ګلګون راوله
خواخوږي وکه کونډو و رنډو و یتیمانو سره
پسرلی راغی نوو نو و ارزو ګانو سره
هغه ښادان چې نه خزان او نه توپان ولري
په دې جهان کې بل دمینې لوی جهان ولري
د رنځورانو د صحت دارو درمان ولري
په بیچارو و شفقت فضل احسان ولري.
الینګاري یې غواړي خدای نه دعاګانو سره
پسرلی راغی نوو نوو ارزو ګانو سره دا،

، ا، نارنج ګل، ګډ شعري غونډه، ۱۳۵۰ د مرغزار کال، ۱۴۰ مخ
د افغانستان اکاډیمي، د پښتو انکشاف ریاست، دولتي چاپخونه

زینت د انسانانو دی د علم په ژوندون
راځئ چې ځان خو شبو یې کړو د پوهې په صابون

فضا د کائناتو کې د علم غلغلې دي
په ساینس په تخنیک کې د بشر مسابقې دي
حیرانه ور ته پاتې فلسفه د افلاتون

د عقل په رڼاسره د علم په دنیاکې
انسان یې خوشې کړی لا بیتنهایې فضاکې
دوړې کوي د ستروپه راکټونو اوپه بالون

د فکر حرکت رڼې پیدا شوی هره خواکې
د کار رکاوټ غزیږي نه د ژوند په سیماکې
د علم لیلا ناسته انتظارکې د پښتون

هرڅاکه سترګې خلاصې کړې په علم په هنر
جاري یې حکمت دی هم پدبحروهم په بر
نور جګ کړه السونکاریه سر د فکر لمه زنګون

پوړه توري زلفې په سپين مخ باندې سيزل وکړ(۱)
کينه آيينې سره د حسن جنګول وکه

ستا په اشارو کې څه خوازه رمزونه دي
تا نه د اسمان ستوري زده کړي سترګکونه دي
راشه په ملالو سترګو بيا د ناز کتل وکه

وغړوه سترګې زړونه وباسه ګوګل ځنې
سړي منګولې تاوې که خوړې وړې وربل ځنې
وخانده موسکی شه غوړيده لکه د ګل وکه

پورته که پلو له مخې خوی د معشوقو وکه
سترګو کې خبرې ګونګوسی لکه د غلو وکه
وګوره په مينه بيا د مينې تخنيل وکه

راشه چې دې وګورم په ښه مينه رضا سره
څنګه ښه ساعت وي چې اشنا ګوري اشنا سره
ما الينګاري سره د سرو شونډو ويل وکه

---

(۱) وکه - وکړه

چا له آزاره وړې نه دي بـــازارونه
يا ره مه اخله آزارونـــــــه

دنيا په مينه ده ودانه مرور مه ګرځه جانانه
ګله نا ګله دې راليږه ســـــلامونه

دزړه قسل مې په تاکيږې ستا مې خوږې زلفې خوښيږې
واشه پخلا ګه مرور داغلي زړونه

دا به دعشق تقاضا وي چې خوبان واره بې پروا وي
الينګاريه دا دښکلو دي نازونـــه

وخورم غمجني دنيا وخـــــورم
ديرو اندينبنو و ســـودا وخـــورم

ديرپه دردبدلو دردبدلی يـم اوښکو د مظلوم ديرژړولی يم
ظلم وتجاوز نـــاروا وخـــورم

هرچې خواته گورم بل اوروښه دي سوزيې اورزوگانې شنه دودنه دي
ديرو ناروا و تعـدا وخـــــورم

هرچې خواته گورمه دنيا گـــورم خدايه دا دنيا ده که بلا گـــورم
وتښتمه گوم خوا بلا وخـــــورم

مړاوې اورزوگانې مې تازه نه شـوې اوښکې حقيقې مې ايستاده نه شوې
ديردې تظاهر و ريا وخـــــورم

نورې و سره هر رنگ هوسونه شته ما اينگارې سره غمونه شـته
غم د غنم رنگې ليـــلا وخـــورم

ولې دلګیر یې اشنا مزاج دې وران وینم
دا ګلاب خپره دې خزان خزان وینم
په زړه دې څه تیر شوي چا لمسولی یې
رقیبو څه ویلي چا درد ولی یې
بن لحه بن لحه اوښکې دې په مخ باران وینم
سترګې دې سرې وینمه زما شیرینه یاره
لکه د سوې پانې ریزدې له ډیره قاره
نرمه نرمه شونډې د زړه توپان وینم
زما شیرینه یاره هیڅ وخت دلګیر نشې
دیارانې په ترخ کې په زړه زهیر نشې
الینګاری دې غم کې سترې ستومان وینم

لوبی

ننګیالی ځوان یم د ننګ په ویښو مې ښایسته دي تاریخونه
تاریخ په ننګ زما شاهدي پلار وفیکه بې مجاهدي
ما په دنیاکې د ننګ پرینبي یادګارونه

ننګ وغیرت زما ګاڼه ده د پښتون دغه ترجمه ده
که باور نه کړې وزر شه ګوره کتابونه

ماچې په چاکړې ګوزار دي وجود بې اوس هم ناقرار دي
په غلیمانو بې رنګ کړې دي ملکونه

په ننګ کې ومرم افتخار دي بې ننګه ژوند پښتون ته عار دي
چا په بې ننګو دروولي بیرغونه؟

د چا چې ننګ وهمت کار دي الینګارې بې خریدار دي
بیخ چې شین نه شي د بې ننګو په لاسونه

PROPERTY OF PACKU 7746

اشنا ته ګوره چې په څه ناز و نخرو راځي

له دنګو غرو راځي دعرش له سره

لکه موسی له هسکو غرونو په تمو پورا ځي

په شوند و سرو راځي دعرش له سره

زلفې تارتاري لري مستر ګې خوماري لري لبې ابداري لري

تن بې ترغوبه شرنګ و پرنګ لې د پالو راځي

څه په ورو ورو راځي دعرش له سره

منګولې سرې ګرځوي زلفې خورې ګرځوي وروځې لیندې ګرځوي

ناز و آواز بې د موسکا له شوند و سره راځي

څه په ورو ورو راځي دعرش له سره

چې اشنا و ګوري خپل بیا ګوي زیر زیر کتل په کنار ود ویل

لکه چې زړه بې لاس ته د را[illegible] راځي

دکینا ستو راځي دعرش له سره

کښې د سینه ترغاړه ګوري هر خوا ملا له وایي عاشق تر زاړه

چې ګل غوړیږي نو بلبل په چغید و راځي

په کړید و راځي دعرش له سره

الینګاري په چکر وتلی و مازیګر وبې لید سنګلی بښر

ګکه په زړه بې چې پاونه بیا د غرو راځي

دعرش له سره

داستانونه

ودبل پي جوړ کړ اروپايي فيشن کوينه - بيا به څوک خلا لوينه

زلفي نن مخ باندې خوړې کړې - شونډې پې پانو باندې سړې کړې
تاسو پې گورئ څه د ناز لوبې کوينه.

ټوله نخره ده يوک له خپله - په مينه مينه گوري خوالله
لکه د زرکې په شان سړې منگولې ځينه

له گل نازکه ده نازولې - د ناز په غيږکې ده لوبيدلې
د معشوقو په قانون سترگې ريږينه

د پنکلو مينه نه ده اسانه - گرانه ده گرانه جانانه
الينگاري پې د گرانښت اعلان کوينه

په یووخت کې دوه ګوجر دسین په غاړه
وو ملګري دواړه وو سره هم غاړه
یشنو ورشو شنو وښو او شنو جلګو ګې
ښه خوشحاله ګرځیده په شنو ورشو کې
دواړو مینې خرولې هم پیولې
هریوه به خپلې مینې ښې ستایلې
دوی دمینې تربیه کې استاد ان وو
مالداري به یې کوله مالداران وو
مینې بلا ربې شولې وخت یې دلنګوال شو
ګوجر هم دخپلو مینو پوه په حال شو
دلنګون په شپه یې دواړه خوکیدار وو
خو دا یو ګوجر له خوبه نا قرار و
دغه خوب شولو غالب په ګوجر باندې
سر یې کینبود ه ویده شو بستر باندې
مینې لنګې شوې چې یې شو وتړې لاندې
وینس ګوجر ورپسې پاشید لاړه ورانده

مینبکتي یې د وینه گوجر د مینبو
کړلو بیلې خبرونه دې له دې پینبو
چې وینه گوجر له خو به شو را پورته
برابرې وکاته د مینبو لورته
گوري خه چې مینبکتي ولاړ دده دے
ده ویل په دغه کار حیرانیده دے
وینس گوجر ویل قدرت دا پینبوینه
نرکیتي به زیږوي چې خوب کوینه

په رښتیا چې څوک بې وخته کړي خوبونه
پسې جوړ شي الینګاریه متلونه

یوه ورځ یروب وم دفکر په دریاب
ژرمي واخیست هم قلم او هم کتاب
په دې فکرچې کتاب مطالعه کړم
د پریشانه زړه غمونه اواره کړم
تر نظره مې شوځه ښکلی مضمون
په لیدویې شوم بې حده جګر خون
اومې به تیرکړم درته دغه حکایت
غوږ پرې کیږدئ ورونو وکوئ دقت
یو سړی و نوم یې قیس بن عاصم
مسلمان شو د هجرت کال و نهم
ده ایمان راوړ په پاک نبي سردار
جهالت او ناپوهی نه شو کنار
بله ورځ راغی حضور ته د حضرت
د اصحابو وو ټولې په جماعت
اصحابو ښرښه وکړله پوښتنه
قیسه ورورې مونږ له تاکړو پلتنه
خنګ وایې چې تا هره لور وژلې
په ژوندون دې تورو خاورو ته سپارلې

دا ریښتیا وړاوکه څنګه حقیقت و
که ریښتیا وي نو ستا ولې داعادت و
قیس ویلی په ریښتیا چې دا کار کړی
اوس د حق میدان ته دروغ نه شم ویلی
تقاضا زما د جهالـــت
نه منله دا خبر په هیڅ صـــورت
لور به څنګه زما بل سره جوړه شي
دینه ښه ده چې ژوندۍ په هډیره شي
هغه دم چې به له موره زیږیدله
په همدې سبب هر لور وژلـه
چې هر خومره مې دی لونې خپل وژلي
په یوې پسې مې هم نه دي ژړلـي
مګر یو لور مې زه درې یم درد ولـــي
چې تر اوسه یې په زړه یمه داغـلی
هغه داوه چې زه لاړم په سفـر
خپل عیال ته مې د حمـل وخـطر
له عیال څخه مې لور وه پیدا شوې
چې زه نه وم دایې تر ورکړه لیږلـې
خیال یې دا وچې له پلاره به شي پټـه
تر بیه کې به تر ور ګوندې شي غـټه

چې شي پېغله پرې به هرڅوک کوي مينه
پلار به يې کله رضا منده شي په مرينه
چې زه راغلم له سفره خخه کور ته
چې مې وکتل د خپلې بنځې لور ته
ما ويل ته وې اميد واره د اولاد ـ
راته وايه چې دې څه کړ خپل بنياد
بنځې ويلې چې ما لور وه زيږ ولې
په ژوند ون مې تورو خاورو ته سپارلې
ګڼه ستا عادت وه مونږه ته معلوم
ژر مې مړه کړه چې پرې به دې نه شي نوم
لنډه دا چې پدې تيرشو څو کلـــونه
پسرلي لور مې وسپړل ګلـــونه
کورته راغله تورې سترګې خيالـــولې
تورې زلفې به يې په مور شانه کـــولې
ما تپوس وکړ چې دا جلۍ ده څـوک
چې د حسن سيال يې نشته په بل ټوک
چلۍ پاڅيده چې زه يم دستا لـور
هسې نه چې ګومان و نه کړې د نـور
زه چې يوه شوم په دا هسې حقيقت
لور مې بل شو به وجود د جمهالـت

ما ویل ښه ده نولرم درسره کار
تورې خاورې به کړې تا باندې امبار
بله ورځ مې دا راوویسته له کوره
موږې نه وه دا په مخ مې کړه سر توره
برابر مې کړله دشتې هډیرې ته
سمدستي مې کړه حاضر د مرګ جاړچي ته
قبر وویست ما په بیړه په تلوار
بیا مې داکړه تورو خاورو ته ګوزار
لور مې وویل چې له مرګه نه ګرم څنګ
دې خبرې ته مې غوږ کیږده یو درنګ
دې ویلې له ماشوې څه ګناه ده
پلاره ولې دې په مرګ زما رضا ده
دې چې هرځومره کول زاري عذر و نه
ما کا نه کړل په خبرو خپل غوږ و نه
ما دخاورې پرې انبار کړې ډیره
تورو خاورو کې شوه دوبه تر مړه
بیا یې وویل چې زما شیرینه پلاره
لږ مې پریده چې ساه و وځي په قرار ه
بیا مې هم دده خبر وا نه وریدله
په سرو ستر ګو که هرځومره ژړیدله

په ژړا کې ټیکیلې راته کـــــولې
دې ژړې ما پرې خاورې اړولـــې
لنډه داچې نازنینه لورمې مړه کړه
د وحشت او ناپوهې خوا مې سره کړه
خدای خبر چې اوس یم څومره دردیدلی
مګر څه وکړم چې وخت راځنې تللـــی
بیا سر پورته کې زمون نـــې حـــضرت
ته چې دومره په زړګي باندې یې سخت
خدای په داسې څلکر رحـــم نه کـــوینه
که هر څومره ډډ دوستۍ لاپې وهینه
نه داستاغوندې ظالمـــو شفاعت
نه کوم په سخته ورځ کې د قیامـــت
له اسلام څخه پخوا دومره وحشت و
چې دلور سره سلوک د حیوانیت و .

د فقیر الینګاري مضمون دغـــم دی
شاګردانو تې ډ لیکلی په قلـــم دی

ډ - تې ډ تریې

چاربیتی

یوه ورځې چې ته تلم چې ته مې کار و
درخصت دا خستو مې بند و بار و
کله جنګ کله پخلا وې یو تر بله
کله کله دا شنا دلورې قـــار و
یوناځا یه مې د زنګ آواز ترغوږ شو
او د مکتب دلوری وخو لکـه هار و
ما ویل زنګ دا د تفریح ذی که رخصت شو
چې کاته مې درخصت پې بند و بار و
د عرفان د باغه وړتل ګلـــونه
هم د ځانه پې جوړ کړی نن کتـار و
تعلیم۱- د جاهل فرق پې همد و سره کـولو
داسې حال کې چې صنف ټول په انتظار و
د ه ویل جاهل په دوه قسمه دی ګورئ
یو بسیط بل مرکب و دا اظهـار و
چې نه یوه وې نه دچا خبره اوریږ
مرتبه- مرکب دی ګمـه څه هم زوی د مالدار و
ما په دیر احترام وویل اجازه ده
چې زه هم پښتنه وکړم زما وار و
اوس به هم پښتونستان جوړشي زړګیه
که هم ټول پښتون روان په یوه لار و
بحث شوخلاص لها پسلاني الینګار یه
ته هم لاړ شه چې همغلته دی کـار و

یار می گنډلې اشنا ننګ وخت
سپین مښکاریدلې له وراله نژدې برګ وخت

ما ویلې په سر مې دبخت بازکینولے دی
دلو رو غرولې خوکو را پریو تلے دی
نن ې په طمعه په لاس کې ورته نیولی دی
فکر ې دیرو خطا خنګه بدرګ وخت

هستې ې ستا په هستۍ پورې تړلې وه
د صداقت مینه ې را تښتیدلې وه
جور وجفا ې د یار کله ګنلې وه
تیروتم ستا په خندا د اوښو ځګ وخت

ګیله دې نه وي دچا ویر در د یدلـــی یمه
د تجاوز په ژبه کې ګـــــویدلـــی یمه
عفوه به وکړې اشنا که تیرو تلـــــی یمه
د زړه خبرې له ما په شور و زرګ وختې

د مینې پټ ساتنه عالـــي هـــمت غـــواړي
د محبت پالنه لـــوی شـــرافت غـــواړي
الینګارې دې مدام قدر وعزت غـــواړي
دا به قسمت وي زما بې وفا ګ وختې

له موږ څخه غټان — ښه لوی میلونران
بانکونو شرکتونو کې لري حق داولیت — خواخوږي دملت
رقم رقم قصرونه — والګاوې موټرونه
هو ختیف عمارتونه
هستي او دارایي یې ده له شمار څخه وتلې په ستر ګو یې لیدلې
دیر ژر سرمایدار شي صاحب دافتخار شي
باقدر و با وقار شي
دا هسې یې کیمیاوي نسخه یې یاده کړه له چا نه له کوم یوه ملا نه
تري و به کړو پوښتنه له بې پیر څه پلتنه
له داسې دولتمنه
خفګان دي منځ کې نه وي د دوړې کوو حساب چې څه وای جواب
زما خواخوږي وروره کاروان اخلي له زوره
وږي ږه مه له شوره
ډبښتیا به راته وایې چې داځله باندې ابادشوې
داخل خارج کې یادشوې
فقیر وې تر پرونه پریشانه حال زبونه
بیزار وې له ژوند و نه
اوس ستا په منځ کې ګرځې دلې دلې نوکران له موږ څخه غټان
دامال وایه دچادی دوا که نارواد ی
حلال او که د غلا دی
که ستالاس ته راغلي دي په غدر و په خیانت خواخوږي دملت

هرشوچې سوچ وهمه سنجش په کې کومه

مدرک پې نه وینمه

خو دا رامعلومیږي چې اخستی دی رشوت دی — په نوم دصداقت دی

په مرګ دې دی نیولی په درد دې راضي کړی

جامې دې تیرې ویستلې

اوبه دې خړې کړې بنکارې دی کړی دماهیانو — ماهرو چالبازانو

دا څنګه وروړ ولې ده دا څه عزیز ولې ده

دا څه پښتو نولې ده

په چل او په فریب دې تالاکړیدی کورونه افسوس وروړ پښتونه

چالاکه هیله باز پې په هر قالب کې سازپې

په دې کار کې استاذ پې

د بنه مکتب شاګرد پې دا تعلیم درکړی چا ده[1] زما په کې سوداده

مرض د فیشونو نو د لوکسو تمیزونو

.پې ځایه مصرفونو

په دې ، خلکو جاري ده خدایه ته شې مهربانه

له موږ څخه غټانه

له خدایه وویریږئ له خلکو وشرمیږئ

اخر پې بد نامیږئ

ناوړه تقلید وکړې نور و نه کړئ رقابت

خواخوږی د ملت

(۱) ده - دی

د دنیا کې خواخوږي ده د صدق غمخوري ده

وحدت او قاموسي ده

زمونږ خپلو منځونکې یو دبل سره غرورشته فکرونه دتربورشته

فن عصر د قمر دی جهان یې تول منور دی

زمونږ مخ کې گوتې خردی

د بنیاکه درته وایم شخصیاتو کې وتباه گیله وکړو له چا

میدان د تظاهر کې د خلکو په خاطر کې

پاک نفسه ځان ظاهر کې

د غلط او کاروانې قصه کړې هریوشی بزگ حلې کوي د گرگ

خدای شته چې پوهیږم ... په چل ول نه غولیږم

حیا راځي شرمیږم

له خدایه وویریږه لږ کار واخله له حیانه خفه نه شي له مانه

په ځان باندې مین یې ملنگ د بنه فیشن یې

بې ځایه کبرجن یې

دالوخ او وږی تږی قام په څوک کاندې ودان

له مونږ څنې غټان

مسلمودار و پایه ده په دنیا کې دې سیالۍ ده

شپه او ورځې د خوارۍ ده

مثال کمال دی نشته لباسي دې دی لیاقت

خواخوږی د ملت

خود خوبه خود نما شوې خپل عشق کې مبتلا شوې

دا ولې بې حیا شـوې

ریښتیا ویل ترخه دي په ریښتیا و خفه کیږي په زړه کې به غوریږي

ورځ شته ده د حساب د سوال او د جواب

په اور به شي کبـاب

په تیرو توبه ګار شه آینده مه کړه ظلمونه کوې به ارمانونه

خادم د خلق الله شه د قام ترقي خواشه

بیا ته زما آغا شه

له سهووځنې تیر شه د قام وکړه خدمتونه چې بنګل ډګرم لاسونه

دا مست لیونی چا کړې زه ژاړم ته خدا کړې

بیالا نې د وفا کـړې

قسم دی که دې رک رک کې یا نښه د وفا وي

یا ستا سر کې سودا وي

سر بښکته کړه ګریوان ته تابع اوسه وجدان ته

نور مه ګوره اسمان ته

په سمه لار روان شه نور مه شرموه ځان زمونږ ځنې ختمان

ای وروره خدای لپاره لاس واخله له بدکاره

نورځه په سمه لاره

په ما الینګاري باندې لازم وه نصیحت خواخوږی د ملت

ما نه اشنا د غم د پاسه غم لیږلی دی

بیا چا لمسولی دی

د محبت په شرافت باندې قسم دی زما۔

په هغو اوښکو چې ګریوان وربانديې نم دی زما

په حال چې یوالله خبر اوبل قلم دی زما

چې د خوابه اشنا په مینه بې نښه دی

زه د اشنا خوشحالي خپله غم یې غم ګڼمه

خوابه ترخه ښه به یې واړه محترم ګڼمه

قدر یې په ځان باندې لر هرچا مقدم ګڼمه

په احترام می دده هرامر منلی دی

دمینې کورکې پیدا شوی لوبید لسی یمه

مور په زانګو د محبت کې ن ګولی یمه

په اشارو د تورو سترګو پوهیدلی یمه

د ازل ویش کې خپل قسمت راسره لیکلی دی

په درد کې خوښ یم لږ یې درد وښه امان غواړم

په تورلحد کې به د وه سترګې د جانان غواړم

د مینې غم چې تیروي هغه سیالا ن غواړم

الینګاریه د اشنا غم نا ولی دی

ما چې دمینې کچکول واخیسته گدا شومه
او لحوتس انگشت نما شومه

زه د دنیا فخر سپارمه دنیا دارولره
شرف د سرو سپینو ښځو سرمایدارولره
مینه مې کار دی غم دمینې طرفدارولره
ځکه د هرکس وناکس نه بې پروا شومه

دیارانې ساتل یو بل شانته قانون غواړي
رسم و رواج ځنې وتل لکه مجنون غواړي
قید و قیود نه قبول آزاد ژوند ون غواړي
جهان د عشق کې لکه سروه سربلا شومه

ما د اشنا تور و تومت ځانته عزت ګڼلی
خلکو چې هرڅه وایي ما خپل شرافت ګڼلی
درد و تکلیف مې په همدې لکه راحت ګڼلی
خیر دی که اوس د تومتونو اشتباه شومه

زه د سیالانو له ټولې ځنې وتلی یمه
د محبت په جرم چم ګاونډه رتلی یمه
الینګاریه د اشنا ستر ګو ښیولی یمه
دبې رحمې کا پونته نښته د هرچا شومه

PROPERTY OF ACKU 7746

مه راځه مرګیه بې ستاله راتلو
یار بې وفا شوښن سبا خپله درځمه
نور په ژوندون تنګ یم
دمخ ډیوه بې چې شوه بلله
هلته سر بازي ته راغلې په سیالۍ
سر و مال چا دوکه بیا وه په جواري
دې کې لوبیدمه او رکې سوځیدمه
ژړیده شمه نه ما په کړیدو
انکار د مینې نه وا دی
کله مناسب وي مینه کې انکار
بې مینې چې و مړ ما مرګ بې دی مردار
کله وار خطا شمه کله بې وفا شمه
پښکه چې مسؤل یمد کا نور دیشتو
اوښکې چې ستر ګو نه جدا شوې
وږغې اشنا نه عذر نه شوائی
نه شولې منظور چا په مخ باندې شوې ماتې
وږد وږ وتو پدلې وږدوږ وخښیدلې
پته خوله بې ځان مرګ ته وسپارې درد
د اشنا مینې لباسي وه
دا به مې قسمت و وسومه هجران
خیر دی که زه وسومه خوښ دې وی جانان
پریږده چې سوځیږم پریږده چې کړیږم
بخت الینګار دی سره ووسوځیدو

د دانش کتابخانې له خوا نور خپاره شوی اثار

د شګې ګل	سید کمال د ننګرهار ولسی شاعر شعرونه
قلم او قیام	د لغمان ولسی شاعر عبدالرحمن علینګاری شعرونه
برګودر	د ننګرهار ولسی شاعر توکل شعرونه
منګولی	د لغمان ولسی شاعر سید باوو جان شعرونه
سندریزې کیسې	د لغمان ولسی شاعر شیخ احمد خان شعرونه
غجنې سترګې	د لغمان ولسی شاعر بسم الله ګلکار یوال شعرونه

دیګونه او شعرونه	طنز شعرونه - کاتب پاڅون
دولتی موټر	طنز داستانونه - کاتب پاڅون
پندونه او خوندونه	واړه طنزونه - کاتب پاڅون
د بنجاره هتی	واړه طنزونه - کاتب پاڅون
سړی څنګه پښه شوه	طنزونه - کاتب پاڅون
د بنار په ستدیوم کې	د مهاجرت طنزونه - کاتب پاڅون
دوه مخی کسان	طنز - میرزا علم حمیدی
وری څنګه لیوه شوه	طنز میرزا علم حمیدی

له مابنامه تر مابنامه	پیر محمد کاروان شعرونه
چنار خبرې کوی	پیر محمد کاروان شعرونه
څانګې څانګې ارغوان	نورالحبیب نثار شعرونه
خونه خبرې کوه	حسینه ګل شعرونه
د تاووس بنکه	د مصطفی سالک شعرونه
رحیومه	د ګوهر رحمن ګوهر شعرونه
د یوټ	د ګوهر رحمن ګوهر شعرونه
د پښتو شعر هندسی جوړښت	د اسماعیل یون
افغانستان څنګه تباه شوه	جنرال رحمت الله سایی
سړي لښکرې په افغانستان کې	د داود جنبش ژباړه

دانش کتابخانه، د هکی نعلبندی، قصه خوانی بازار - پیښور